د ا فغانستان د بشر حقونو خپلواك كميسيون

مطبوعاتی خبرتيا :

د خوست ولايت د موسا خيلو په ولسوالي كي د ځلورو ملكي كسانو د سرونو پريكول د بشريت په وړاندي جنايت او د نړيوالوبشرپا لنې( دوستانه) قوانينو څخه سر غړونه د ه :
كابل : د ۱۳۹۰ ل هه كال د غوائي ۲۱ ( د۲۰۱۱ ز كال د مى ۱۱ ) :

د خوست د موساخيلو په ولسوالي كي د ۱۳۹۰ ل هه كال د غوائي پر ۱۹ نيټه (د دوشنبې په ورځ ) د دولت وسلوالو مخالفو ډلو څلور ملكي كسان وتښتول او بيا ئې سرونه ترې پريكړل .
د افغانستا ن د بشرحقونوخپلواك كميسيون په دې وسيله د قربانيانو د كورنيو سره خپله خواخوږې شريكوي او د پاك خداى (ج) څخه هغوى ته لوى صبر غواړي .
د افغانستان د بشر حقونو خپلواك كميسيون دغه وژني د اسلام د پاك دين د موازينو خلاف او د نړيوالو قوانينو تر پښو لاندي كول ګڼي ،او همدا شاني په ښارونو او ولسواليو كي پر ملكي كسانو بريدونه او د هغوى تروروول په كلكه باندي غندي . دغه كړني په هيڅ توګه توجيه كيدلاى نشي ، د افغانستان د بشرحقونوخپلواك كميسيون د دولت د وسلوالو مخالفو ډلو څخه غوښتنه كوي چې ملكي وګړي په نښه نكړي.
له هغه ځايه چې د خوست ولايت د موسا خيلو ولسوالي د وژنو دغه پيښه ( د۱۳۹۰ ل هه كال د غوائي ۱۹ ) چې پر ملكي كسانو تر سره شوي ده ، نو د افغانستان د بشر حقونو خپلواك كميسيون په دې اړه كلكه اندېښنه لري او د افغانستان د اسلا مي جمهوري دولت څخه غوښتنه كوي چي د دې وحشي جنايت تر سره كوونكي ( د بشر په وړاندي جنايت ) محكمې ته راكش كړي او په دې برخه كي هيڅ ډول حڅي ونه سپموي .


د افغانستان د بشر حقونو خپلواك كميسيون
افغانستان كابل، دريمه كارته ، سور پل
تيلفون : ۰۲۰۲۵۰۰۶۷۶
فكس : ۰۲۰۲۵۰۰۷۷
ايميل : aihrc@ aihrc .org af
سايت : www.aihrc.org af